# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## يوه کوچنۍ دانه: د ونګړي کيسه (ونګړي د نجلۍ نوم دی)!


Nicola Rijsdijk
Maya Marshak
Darakhte Danesh



This work is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0


# يوه کوچنۍ دانه: د ونګړي کيسه (ونګړي د نجلۍ نوم دی)!




Nicola Rijsdijk
Maya Marshak
Darakhte Danesh


3

پښتو ps



په ختیځه افریقا کې د کینیا د کلي ترڅنګ د
غره په لمن کې یوه نجلۍ چې ونګري نومېده
له خپلې مور سره په پټي کې کار کوه.



د ونګري کليوالي ژوند خوښېده. د خپل ميوو
په بڼ کې به ځمکې يېوې کولې او په منځ کې
به ورته کوچنۍ دانې کېښودې.



د هغې د لمر پرېواته ننداره ډېره خوښېده، کله
چې د لمروړانګې پنا شوې، د پټي پر نرۍ پوله
د کور خواته روانه شوه او ترڅنګ يې د سيند
له خوړ غږ نه خوند اخيسته.





ونګري په ۲۰۱۱کال کې مړه شوه، خو کله چې
موږ دا ښکلې ونې او ځنګلونه ګورو، د هغې
فردي هڅې او کوښښ مو ذهن ته راشي.




ونګري له ښوونځي سره علاقه درلوده، خو مور او پلار يې مخالفت کوه چې ښوونځي ته لاړه شي. دوی غوښتل چې ونګري دې يوازې د کور کارونه وکړي. د ونګري عمر د اوو کلونو و، خو ورور يې ورسره مرسته وکړه. پلار او مور يې دې ته راضي کړه چې ونګري په ښوونځي کې شامله کړي.





ونګري اړ وه چې د حالت د ښه کيدو لپاره ډيرزيار وباسي، کار وکړي او د خپلو هڅو له امله ډيره مشهوره شوه. د زحمتونو په بدل کې يې خلکو ورته ډالۍ ورکړه، او دا ډالۍ د نوبل په نامه ياديږي. دا د افريقا په تاريخ کې لومړنۍ ميرمن ده چې دا ډالۍ يې ترلاسه کړې ده.




د هغې ډېره مينه له کتاب سره وه، چې ډېر څه ترې زده کړي او ډېره خوشاله وه چې د زده کړو لپاره د امريکا متحده ایالاتو ته بلل شوې ده. ونګري ډېره ليواله وه چې د نورې نړۍ په اړه هم معلومات ترلاسه کړي.





د وخت په تيريدو سره ونې رالويې شوې او ميوې يې ونيولې، له دې سره ځنګلونه زرغون شول، سيندونه وبهيدل او د ونګري نوم په ټوله افريقا کې مشهور شو. د افريقا اوسني ستر ځنګلونه د ونګري د هڅو پايله ده.




ونګړي په امریکا کې ډېر څه زده کړه، او د
نباتاتو د کښت ټولې لارې چارې يې زده کړې،
دا يې هم په زړه شول چې د ماشومتوب
وخت کې يې د کینیا په ځنګل کې څه ډول
نباتات کښت کړي وو.





ونګړي پوهېده چې خلک څنګه له فقر او بې
وزلۍ وژغوري، خلکو ته يې له دانو د ثمر
لرونکو ونو د کښت او کینولو لارې چارې هم
وروښودلې، د کلي خلکو به ثمره ونې ووهلې
او په پیسو به يې کور ته د اړتیا وړ توکي
واخېستل، له دې او میرمنو سره به يې دا
مرسته وکړه چې څنګه پر ځان بسیا شي.



هغې نورې زده کړې هم وکړې، او له خپلو
خلکو سره يې ډېره مينه درلوده، او د دوی د
آزاد ژوند لپاره يې کوښښ کاوه، چې د افريقا
خلک ازاد ژوند ولري او پرمختګ وکړي. ونګري
به تل خپل افريقايي کور يادوه، ځکه چې
ډېرې خاطرې يې ورپورې تړلې وې.





کله چې ونګري خپلې زده کړې پای ته
ورسولې، بېرته کينيا ته راغله، خو د خلکو ژوند
کې ډېر بدلون راغلی و، د ځمکې پر سر غټې
فارمونه خراب شوي و، ميرمنو د خوړو لپاره
څه نه لرل، د سون توکي يې خلاص شوي وو
او ماشومان هم وږي وو.